BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# لوست

- څنګه له خپل ماشوم سره لوست کولای شو

د لاندې مسایلو په اړه د پوښتنو بیلګې
(اختراعات، اوبدل شوې خولۍ او لیونۍ پیشو)
لیکوال: Rasmus Bregnhøi

د لاندي مسايلو په اړه د پوښتنو بيلګي (اختراعات، اوبدل شوي خولی او ليونی پيشو) ليکوال: Rasmus Bregnhøi

## له لوست څخه وړاندي

که چېرته د کتاب له لوستلو مخکې له ماشوم سره خبري وکړئ، پر متن باندې د ماشوم له پوهاوي سره مرسته کولی شئ.

د پوښتنو بيلګي:

- د کتاب نوم " Opfindelser, strikkede huer og en dum kat" يا "پنځونه، اوبدل شوي خولی او ساده پيشو" د ليکوال نوم او انځوروونکی راسموس بريګنوهای
- تاسو د کتاب په پوښ باندي څوک ليدلی شئ؟ دوی څه ترسره کوي؟
- څه فکر کوئ چي مورک او پيشو څه احساس کوي؟
- آيا فکر کوئ چي په پوښ باندي هغه ساده پيشو ده؟ ولي او ولي نه؟
- دا چي کتاب د څه په اړه ده څه فکر کوئ؟
- د کتاب په شاتني پوښ باندي دا چي کتاب د څه په اړه دی يو لنډ متن ليکل شوی. که چېرته مورک پيشو سره مخامخ شي څه فکر کوئ چي حالت خرابيږي او که ښه کيږي؟
- يو سړی څه ډول پنځونه رامنځته کولی شي؟ آيا د کوم شي د پنځولو هڅه مو کړيده؟





## د لوست پر مهال

تاسو له ماشوم سره د متن په پوهاوي کي مرسته کوئ، که چېرته تاسو مخکي د کتاب لوستلو څخه د کتاب په اړه خبري کوئ.

د پوښتنو بيلګي:

- په 4-5 مخونو باندي انځورونه وګورئ، تاسو څه وينئ؟ مارکيټ څه شی دی؟
- ستاسو په اند مرستيال چا ته ويل کيږي؟ مخ. ۱۲.
- ستاسو په فکر د مورک مطلب څه شی ده، کله چي هغه وايي، "دا تر ټولو وحشي لغته وه"؟ مخ. ۱۱.
- د لغتي نور مطلبونه او ماناوي کومي دي؟
- د ستورو په کتنځي کي تاسو څه شی کوئ؟ که چېرته امکان وي د ۲۷-۲۸ مخونو باندي د نوي کور انځورونه وګورئ.
- پيشکه (ښځينه پيشو) د خپل کبر په بربنډ اواز کي د ورکشاپ په اړه څه وايي؟
- کله چي پيشکه او مورک ويده شي، ستاسو په فکر د شپي څه پيښيږي؟
- ستاسو په فکر کيسه ښنګه پای ته رسيږي؟ ستاسو په فکر کيسه بدي ډول ولي پای ته رسيږي؟

## له لوست څخه وروسته

- ولي مورک له نورو موږکانو سره نه يوځای کيږي؟
- آيا تاسو کله هم د تنهايی احساس کړی، او يا دا چي تاسو د يو کار کولو کي ښه نه وئ خليدلي؟
- د پيشکي تر شا راز څه شی دی؟ آيا تاسو کوم راز لرئ؟
- مورک او پيشکه په ګډه څه شی پنځوي؟
- ولي پيشکه سپی لغتوونکی نه خرڅوي؟
- تاسو ولي فکر کوئ چي پيشو د مورک او پيشکي کور ته اور اچول غواړي؟
- د مورک د ژوند لپاره مهم شی څه دي او ولي ورته مهم دي؟
- آيا تاسو داسي څه تجربه کړي چي ستاسو د ژوند لپاره مهم ثبل کيږي؟

که چېرته تاسو د کتاب لوستلو وروسته د کلماتو، حروفو او آوازونو په اړه خبري وکړئ، تاسو له خپل ماشوم سره په ليکنيزه ژبه کي د لېوالتيا په برخه کي مرسته کولی شئ.
د پوښتنو بيلګي:

- متن ته په اشاري کولو سره د پيشکي نوم ليکل شوی دی، تاسو کولی شئ د پيشکي کلمه په متن کي بل ځای پيدا کولی شئ؟
- آيا د پيشکي کلمه پيدا کولی شئ؟
- مورک د کور په ډول تلفظ کيږي (په انګلش کي)، آيا داسي نور کلمات پيدا کولی شئ چي د مورک او کور په ډول يوشان تلفظ ولري؟
- آيا داسي نور کلمات شته چي يوشان تفظ او يا قافيه ولري؟
- آيا د بوټ په کلمه کي لومړی آواز اوريدلی شئ؟
- ايا داسي کلمه پيداکولی شئ چي د (ب) په آواز سره پيل شوی وی؟